# بُست

## علمي او څېړنیزه مجله


ټوک : دریم

ګڼه : دوهمه

کال : ۱۴۰۳

بسم الله الرحمن الرحيم

# بُست علمي او څېړنيزه مجله

**بُست پوهنتون**

**دريم ټوک – دوهمه ګڼه**

**کال – ۱۴۰۳**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله

# بُست پوهنتون

**د امتیاز خاوند**: بُست پوهنتون

**مسئول مدیر**: ډاکټر ذبیح الله انوري

**سردبیران**: پوهندوی دوکتور علي احمد احمدي او خان محمد وفا

**د مجلې بورډ**

- ✓ پوهندوی دوکتور عبدالوهاب حکمت
- ✓ پوهندوی عبدالعزیز صابر
- ✓ پوهنمل حنیف الله باوري
- ✓ پوهاند دوکتور خال محمد احمدزی
- ✓ پوهندوی رضوان الله مملوال
- ✓ ارسلان وطندار
- ✓ پوهنیار بشیر احمد بابازوی

**کتنپلاوي**

- ✓ پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش
- ✓ پوهنوال نقیب الله مجددي
- ✓ پوهندوی دوکتور نجیب الله مجددي
- ✓ پوهندوی دوکتور علی احمد
- ✓ پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي
- ✓ پوهندوی نیاز محمد زاهدي
- ✓ پوهندوی گل محمد اعظمي
- ✓ پوهندوی عبدالولي هجران
- ✓ پوهنیار عبدالولي همت
- ✓ خان محمد وفا
- ✓ ډاکټر ذبیح الله انوري

**ډیزاین**: د بُست پوهنتون د څېړنیزو او فرهنګي چارو مدیریت

د خپرولو کال: ۱۴۰۳

**درک**: بُست پوهنتون، لښکرګاه، هلمند، افغانستان

# د بُست پوهنتون د رئیس پیغام

په نني ژوند کې د یوې علمي مؤسسې یو له مسؤلیتونو څخه دا دی ، چې نه یواځې خپل محصلان د پوهې په ګاڼه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زیرمتون څخه داسي څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولني د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره او یا لږ تر لږه د ټولنې د لوستي قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډګر کې د ګټې اخیستنې په موخه ، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسیدلو لپاره پوهنتون باید یو داسې علمي خپرندویه ارګان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحیته منسوبین که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه یال ، خپلې علمي او څیړنیزي مقالې او لیکنې د کاغذ پر مخ باندې کښیښودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې یې ښکاري، باید داسي مسائل را برسیره شي، چې نه یواځې په پوهنتون پورې راګیر پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغاني ټولنې او په ځانګړي ډول سره د هلمند ولایت د اوسیدونکو و نني او سبا ژوند ته په کتلو سره، بریالیتونونه، ستونزي ، وړاندیزونه او د حل لارې-چارې ، وړاندې کړل شي.هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله یواځې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولایت ، آن د سیمي او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څیړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم ، د پاملرنې وړ او ځوان نسل ته د یوې سمې لارې د ښودلو په موخه ، یوه محبوبه او پر زیاتو خلکو باندې ګرانه مجله وي او په ټول هیواد کې به خپل مینه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو ، محصلانو ، فارغانو او ټولو مینه د علمي او څیړنیزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډګر کې چې وي، یو خپرنیز ارګان وي،چې و خپریدلو ته به یې ټول مینه وال په تمه ناست وي.څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تیره بیا د بست پوهنتون محترم استادان ، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څیړنیزو مقالو و لیکلو ته و هڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبینو په استازیتوب ویاړ لرم ، چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې د خپریدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستیال او د څیړنې له محترم آمر او همدا رنګه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زیار او زحمت په ګاللو سره چې مجله یې و خپریدلو ته چمتو کړې ده ، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وایم او هیله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخری تحلیل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټینګ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډیپلوم انجنیر محمود سنګین**

**د بُست پوهنتون رئیس**

# سریزه

بُست پوهنتون ویاړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې یې یو بل ډیر مهم او اړین ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څیړنیزي مجلې د دریم ټوک، دوهمي ګڼې خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مینه والو ته د بُست د علمي او څیړنیزي مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتیبولو او خپرولو کې یې نه ستړې کېدونکې ونډه اخیستې ده د زړه له کومي مننه کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده  او پوره باور لري چې د ننني نړۍ هر اړخیزه پر مختګ د پوهانو د علمي څیړنو د زیار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسي، اکادمیک انستیتوتونه او څیړنیز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پریکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډمیکو نورمونو په رعایت د تدریس، علمیڅیړنو او نوښتونو له لاري مسلکي کادرونه وروزي  او د معیاري تحصیلي اسانتیاوو او زمینو په برابرولو سره د ټولنې ځوانانو ته معیاري او د لوړ کیفیت لوړې  زده کړي وړاندی او د علمیڅیړنو پر بنسټ د کره پوهنیزو اثارو د تولید زمینه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټورو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتینو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هیواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتیني خدمت جوګه شي.

ژمن یو چي د هلمند ولایت، ګاونډیو ولایتونو او په ټول هیواد کي ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کي معیاري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څیړونو زمینه برابره او ټولني او هیواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څیړنیزه مجله یوازي د **سائینسي علومو** په برخه کې علمي او څیړنیزي مقالي او لیکني د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هیله مند یو چې په راتلونکې کي به نوري برخي هم ور زیاتي کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشأالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلي علمي څیړنیزي مجلې د خپرولو له لاری خپل دغه دروند خو  ویاړلی دین (پور) ادأ کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهي څښتنانو او مینه والو ته  په مینه سره بلنه ورکوو چي ددی علمي او څیړنیزي مجلي او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کي خپلي علمي او څیړنیزي لیکني، آندونه، وړاندیزونه او رغنده  نیوکي  او مرستي د تل په شان  راولوروۍ  او د علم  ددي ستر کور په ودانولو کي د خپلي دیني، او ملي برخي د اداینې ویاړ راوبخښی.

موږ هوډ کړیدي او هیله مند یو چي انشآ الله  د وخت په تیریدو سره به د خپل هیواد و بچیانو او ځوان نسل ته د تدریس ، ښه روزني او څیړنیز هاند لپاره  اړیني او د پام وړاسانتیاوي برابري کړو تر څو په لومړي پړاو کښي خپلو هلمندوالو بیا د سهیل لویدیځي حوزي او په پاي کښي و ټولو هیوادوالو ته د یو داسي چوپړ مصدر وګرځي چي زموږ د ځوریدلي اولس او ویجاړشوي هیواد اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او ټولنیزي ستونزي حل او افغانستان د نړي د پرمختللوهیوادونو په لیکه کي ودریږي.

# لړلیک


| د صفحی شمیره | د مقالی عنوان |
|---|---|
| 1 | **د پلاستیک په واسطه د محیط ککړتیا او په لښکرګاه ښار کي د پلاستیکي کڅوړو د مصرف اندازه** ------- <br> پوهندوی عبدالولي هجران[۱*]، حبیب الرحمن[۲]، بریالي[۳]، افتخار[۴] |
| 7 | **د هلمند ولایت په مارجه ولسوالۍ کې د پنبې پر تولید د وچکالۍ اغېزې** -------------------------------------- <br> پوهندوی دوکتور علي احمد[۱*] او ارسلان وطندار[۲] |
| 16 | **Introduction to Farm Management and Its Importance** -------------------------------------------- <br> Sayed Abdul Wahab Saeedi[1*] and Mir Wais Nazari[2] |
| 28 | **په افغانستان کې مشهوره زهري نباتات او پر اهلي حیواناتو باندې د هغو منفي اغیزې** -------------------- <br> محمدالدین خادم[۱*]، پوهنیار عبدالفهیم سروري[۲] او پوهنمل محمدآمان احمدزي[۳] |
| 38 | **د لښکرګاه ښار په دوو کلیوو کاریز او قلعه بُست کې د انګورو پرتله کولو اقتصادي تحلیل کال (1403)** ----- <br> پوهنوال نقیب الله مجددي[۱*]، ارسلان وطندار[۲]، پوهنیار بریالی رفیع[۳] |
| 52 | **An Overview of Introduction, Importance and Types of Natural Resources** -------------- <br> Dr. Mohammad Shafi Akhundzada[1*] and Mir Wais Nazari[2] |
| 61 | **د هلمند ولایت په باباجي ولسوالۍ کې د ریحانو د تولید لګښت، ناخالصه ګټه، خالصه ګټه او مارکیټینګ چینلونو تحلیل ( کال ۱۴۰۲ )** --- <br> پوهندوي دوکتور علي احمد[۱*] او امان الله نیازی[۲] |
| 71 | **د هلــــــمند ولایت په ناوې ولسوالۍ کې د پنبې د تولید اقتصادي تحلیل کال (۱۴۰۲)** --------------- <br> میرویس نظري[۱*] او محمدالدین خادم[۲] |
| 80 | **د سردار ګل محمد خان صنعتي پارک د ودې پر وړاندې خنډونه** -------------------------------------- <br> ارسلان وطندار[۱*]، پوهندوی دوکتور علي احمد[۲]، عبدالقدیر خادم[۳] |
| 88 | **د هلمند ولایت د اوبو د سپما طرحه** ------------------------------------------------------------------ <br> محمد یوسفي[۱*]، ګل احمد احمدي[۲]، فیض محمد فیضي[۳]، عبدالحنان اغا[۴]، شیراغا خپلواک[۵]، خیرالله مزمل[۶] او محمد اقبال[۷] |

# د هلمند ولایت په مارجه ولسوالۍ کې د پنبې پر تولید د وچکالۍ اغېزې

پوهندوی دوکتور علي احمد[1*] او ارسلان وطندار[2]

[1]کرنیز اقتصاد او ترویج څانګه، کرهنې پوهنځی، هلمند پوهنتون

[2]اداره او تشبثات څانګه، اقتصاد پوهنځی، بُست پوهنتون

د مسؤل ایمیل ادرس: aada.aliahmad@gmail.com

## لنډیز

دا څېړنه د هلمند ولایت په مارجه ولسوالۍ کې پر پنبې د وچکالۍ اغېزې معلومولو کال (۱۴۰۳-۱۴۰۲) تر سرلیک لاندې په(۱۴۰۳-۱۴۰۲ ) ه ش کال تر سره سوې ده. د څېړنې عمده موخې پر پنبې د وچکالۍ اغېزې معلومول، د پنبې په تولیداتو کې د ستونزو معلومول، د بزګرانو په اقتصادي ژوند د وچکالۍ اغېزې تحلیل کول او د پنبې د تولید د پخواني حالت پرتله کول او د اوسني حالت څرګندول دي. د څېړنې لپاره مو د هلمند ولایت مارجه ولسوالي په قصدي ډول وټاکل، (۷۰) تنه ځواب ورکونکي مو په تصادفي ډول وټاکل او د دوی تر څنګ اوه کلي مو په تصادفي ډول انتخاب کړي وه؛ تر څو چې د یادو ځواب وروکونکو (کروندګرو) څخه د مرکو او پوښتنپاڼو له طریقه لومړني معلومات تر لاسه کړو. په دې څېړنه کې مو په عمومي ډول (۱) جریب کرونده په پام کې نیولې وه او د هر کلي لپاره اوه کسه ځواب ورکونکي مو انتخاب کړي وه. چې د څېړنې په نتیجه کې مو دا وموندل چې د ټولو کروندو په پخواني حالت د (ابیاری اوبه موجودې وې) په اوسط ډول د فې جریب کروندې د تولید لګښت( ۱۳۹۰۰) افغانۍ او (وچکالۍ)اوسني حالت کې (۱۹۶۲۰) افغانۍ دي. د ابیارۍ د حالت د فې جریب کروندې مجموعي عواید په اوسط ډول (۳۱۷۲۵) او د وچکالۍ د وخت د فې جریب کروندې مجموعي عواید په اوسط ډول (۲۵۹۲۰) افغانۍ دي، همدارنګه د ابیارۍ د حالت د فې جریب کروندې خالص عواید په اوسط ډول (۱۷۸۲۵) او د وچکالۍ د حالت د فې جریب کروندې خالص عواید په اوسط ډول (۶۳۰۰) افغانۍ دي. د پنبې په تولید کې عمده ستونزې عبارت دي د اوبو کموالی، اصلاح سویو تخمونو نشتوالی، مرضونه، افتونه، منظم مارکیټ نشتوالی، د کروندګرو عامه پوهاوی او د کیمیاوي کودو او درملو بې کیفیتي او ګرانښت .

**کلیدي کلمې:** د پنبې تولید، وچکالي او اغېزې

## سریزه

وچکالي هغه اوږده دوره ده چې د باران د نه اورېدلو له امله د هوا نسبتي رطوبت په تدریجی ډول د اوبو د کمبود سره مخ سي. وچکالي هغه حالت دی چې په یوې سیمي کي د اورښت اندازه د کلنی منځنی اندازې څخه ډېره ټیټه سي او نوموړې شنه او اباده سیمه وځپي. وچکالي د نباتاتو پوښلې ځمکه لمنځه وړي، د منرالي موادو د کمبود لامل گرځي، همدارنگه ځمکه یو کلک پوښ پیداکوي، د ځمکي ساختمان تخریبوي او په محلي بڼه په انسانانو اثر غورځوي. ټولي دښتي او صحرایي ځمکي چې د کښت وړ وي په (۱۹۸۰) ز کال کي نژدې (۹۵۰۰) میلونه هکتاره وي چې (۴۵۰۰) میلونه هکتاره د خرابېدو په حال کي وه، احمد او کاساس په (۱۹۸۷) ز کي په دې عقیده وه چې هر کال(۶۰) زره کیلومتره مربع ځمکه د لاس څخه وځي، یعني شاواخوا (۲۳۰۰۰۰۰۰) هکتاره ځړځایونه(۵۱۲۰۰۰۰۰) هکتاره للمي او(۲۵۰۰۰) هکتاره اوبه لرونکې ځمکه UNEP یو این اي پي د ارزوني له مخي (۱.۶ ،۱.۵) هغه خلک دي چې وچکالی ځپلي دي. ( د نړیوالو بیدیاگانو د مخنیوي کمېټې ) په پنځمه ناسته کي چې په کال (۱۹۹۴) ز کي وه معلومه شوه چې (۹۰۰) میلونه خلک په نړی کي د وچکالی څخه په تنگ دي، چې دوسوه میلونه یې افریقایي کروندگر دي. په کال (1970)کي چې د چاپیریال ساتني نړیوالي کمېټې اندازه کړې چې په ټولو براعظمو کي (۳۸) هیوادونو ته وچکالی تاوان رسولی دی. وچکالي د وریځو، واورو او بارانو نشتوالی دی. افغانستان یو له هغو هیوادونو دی چې خورا لږ شین کوریز گازونه خپروي، خو د هغو لسو هیوادونو په کتار کي راځي چې اقلیم د بدلون په اغېزه تر ټولو ډېر زیانمنېدونکي دي. د دغه ناورین اغېزه په ډېرو سوو وچکالیو کي جوت دی. زراعتي وچکالي د کرني وچکالی تعریفونه د موسمي وچکالی بېلابیلي ځانگړتیاوي او د کرني اغېزې سر نښلوي د بیلگې په توگه د باران په کمښت باندي تمرکز کوي، نبات له نورمال حالت څخه وتل، یا ډېری موسمي عوامل لکه د بخار لېږد اوبو لپاره د نبات تقاضا په اوسني موسمي شرایطو کي د هغې د ودې په مرحله او د خاورې فزیکي او بیولوژیکي ملکیتونو پوري اړه لري(Zafar et al., 2023) .

### د پنبې تاریخي شالید:

Coton یوه انگلیسي کلمه ده، چې د فوتون یا کوتن چې د عربي کلمو څخه یې منشا اخیستې ده، چې د نازکي او نفیسي پارچې په معنی ده. پنبه د گل لرونکو نباتاتو له جملې څخه ده چې malvaceae په کورنۍ او د Gossypeum جنس پوري اړه لري. مبدا او منشا د دې نبات نامعلومه ده. ډېر پخوانی ریکارډ چې ۳۰۰۰ کاله مخکي د مېلاد څخه د پاکستان په غربي برخه یعني د سیند د دریاب د غاړې څخه لاس ته راغلی دی. او همدارنگه دا نبات ۳۸۰۰ کاله مخکي په مکسیکو کي موجود وو او گټه ترې اخیستل کېده. Marco polo په ۱۳ پېړی کي د خپل سفر چې آسیا ته یې درلود داسي نظر ښکاره کړ، چې هند ډېر ښکلي او نفیس ټوکران تولیدوي چې په نړې کي یې ساری نسته چې عبارت له پنبې څخه دي. Columbus په ۱۴۹۲ کال کي کله چې د امریکا براعظم ته ورسید د پنبې نبات یې د شمالي او جنوبي امریکا په جزایرو کي ولید. د پنبې د نبات پخوانی منشا هند وو؛ خو د معاصری نړی په منځته راتگ سره د پنبې اصلي مرکز جنوبي او مرکزي امریکا ده، چې په نوي ډول حاصل ورکونکي ورایټي یې منځته راوړې ده، چې په اوسني وخت کي د نړی ۹۰٪ د پنبې د کښت ځمکه آپلنډه پنبه ده او نوره برخه یې مصري او نور ډولونه دي. د پنبې نبات ولاړه مرکزي ساقه لري چې لوړوالی یې ۶۰-۱۵۰ cm دی او بعضي حالاتو کي تر M2 پوري رسیږي. له بندو څخه یې جانبي ځانگي انکشاف کوي په کرنیز شکل سره یو کلن نبات دی او د ریښې سیستم یې ټاپ روټ دی. عمده تولیدونکي هیوادونه: چین، هند، شوروي، مکسیکو، برازیل، مصر، پاکستان، سوډان او ترکیه دي (پوپل،۱۳۹۸).

### د ستونزي بیان:

زموږ هیواد یو د پس پاتي هیوادونو له ډلي څخه شمېرل کیږي چې د غربت، فقر او بېوزلی له سخت حالت سره لاس او گریوان دی. د ضعیف اقتصاد له امله د وچکالی لپاره کوم خاص تدابیر نسته. عمده ستونزي د اوبو کمښت دی. د زارعتي ترویج خدمتونه هم نسته چې اوبو د مدیریت یا هم د اوبو مؤثره استعمال ته پوهاوی ورکړي. د پنبې پر تولید وچکالي کومي اغېزي لري، د پنبې د تولید کمښت د بزگرانو پر اقتصادي ژوند څومره منفي تاثیرات وارد کړي. د کود گران والی، د کیمیاوي درملو بې کیفیتي، گران قلبه دا ټوله عمده ستونزي دي چې کروندگر ور سره مخ دي. د دولت ناسم مدیریت د مسلکي بزگرانو نشته والی او د افتونو ډېروالي او په بزگرانو کي د عامه پوهي نه شتون.

### د څېړني اهمیت:

افغانستان یوکرنیز هیواد دی چې د غلجاتو برسیره د صنعتي نباتاتو د کرنیزو تولیداتو یوه ستره برخه تشکیلوي چې هر کال یې یوه زیاته اندازه له هیواده بهر نورو هیوادونو ته صادریږي. افغانستان د صنعتي نباتاتو زانگو گنل کیږي، ځکه چې د یو زیات شمېر صنعتي نباتاتواصلي

ټاټوبی ګڼل کیږي. د صنعتي نباتاتو د روزولو له پلوه افغانستان هم یو ښه حاصل ورکوونکی هیواد دی، ځکه چې د همدې صنعتي نباتاتو لپاره د افغانستان اقلیمي شرایط خورا په زړه پوري دي. دا چې د افغانستان زیاتره سیمې په ژمي کې سړې او په دوبي کې ګرمې وي نو دا اقلیمي شرایط د صنعتي نباتاتو د روزولو لپاره خورا مناسب بلل کیږي. د څېړنې د موخو پر بنسټ غواړم چې د هلمند ولایت په مارجه ولسوالۍ کې د پنبې پر تولید د وچکالۍ اغیزه معلومه کړم. او د دېڅېړنې څخه به په را تلونکي کې د کرهنې ریاست، اقتصاد ریاست اومحصلان استفاده وکړي. په دې څېړنه کې موږ ته دا را معلومیږي چې په مارجه ولسوالۍ کې وچکالۍ څومره اغېز کړی دی، د بزګرانو پر ژوند یې کومې اغېزې راڅرګنده کړي دي، د پنبې پر تولید کومې ستونزې پیداکړي او یا هم د اوبو غیر اقتصادي استعمال.

**1.7 د څېړنې موخې Research Objectives**

1. په پنبې باندې د وچکالۍ تأثیرات معلومول.
2. د بزګرانو په اقتصادي ژوند د وچکالۍ اغېزې تحلیل کول.
3. د پنبې په تولید کې د ستونزو څرګندول.

**مواد او کړنلاره**

**الف :د څېړنې ځای او وخت:** دا څېړنه په هلمند ولایت مارجه ولسوالۍ کې پر پنبې باندې د وچکالې اغیزې تر عنوان لاندې په (۱۴۰۲) (۱۴۰۳) کال په اوو کلیو کې ترسره سوې ده .

**ب : د څېړنې ډیزاین:** د څېړنې لپاره مو د هلمند ولایت مارجه ولسوالۍ په قصدي ډول وټاکل، ځکه په دې ولسوالۍ کې پنبه زیاته کرل کیږي او اوه کلي بلاک ۹، سمېټې، کېمپ، کاکړان، دوټانیان، لو چهارایي او تریخ ناور په تصادفي ډول انتخاب کړه او په دې ساحه کې مو (70) ځواب ورکونکي (کروندګر ) په تصادفي ډول انتخاب کړه او د کروندګرو څخه د ځمکې اړوند معلومات د پوښتنلیکونو او مرکو له لارې را ټول کړه.

ج د څېړنې مواد: په څېړنه کې مو د لومړنیو او دوهمي معلوماتو څخه کار اخیستی دی. لومړني معلومات مو د هلمند ولایت مارجه ولسوالۍ د اوو کلیو د کروندګرو ( ځواب ورکونکو ) څخه د پوښتنپاڼو او مرکو په ډول راټول کړه او دوهمي معلومات مو له ملي او نړیوالو ژورنالونو، معتبرو کتابونو، ډاټابیسونو او ویبسایټونو څخه راټول کړي دي.

د:احصا یوي تحلیل: د څېړنې را ټول سوي معلومات د (Excel ) پرو ګرام له لارې تحلیل کړل سوي دي.

**۱. د خالص عاید تحلیل (Net income analysis)**

په څېړنه کې د خالص عاید څخه مفهوم د پنبې د خرڅلاو څخه د تر لاسه سوي مجموعي عوایدو او د پنبې د تولید د ټولو لګښتونو د توپیر څخه عبارت دي. لګښتونه عبارت دي د ځمکې د اماده کولو لګښت، د ابیارۍ لګښت، د کیمیاوي کودو لګښت ، د کیمیاوي درملو لګښتونه ، د حیواني کود، روز مزد، بزګری، رفع حاصل، زکات ، استهلاک او نورو لګښتونو څخه،کولای سو د خالص عاید د تحلیل موډل په لاندي ډول سره وښیو.

$$Net\ income = Total\ Revenue - Total\ Cost$$

**۲. د ګټورتیا نسبت (profitablity Ratio)**

د ګټورتیا نسبت موږ ته د تولید د لګښت په مقابل کې د خالص عاید سلنه راښیي. د نوموړي نسبت ارزښت د دې څرګندونه کوي چې د پنبې هر کرونده ګر د تولید د یو واحد لګښت (یوي افغانۍ لګښت) په مقابل کې څومره خالص عواید لاسته راوړي دي. کولای سو دا نسبت په لاندي ډول سره محاسبه کړو.

$$profitablity\ Ratio = \frac{Total\ Net\ income}{Total\ Production\ Cost}$$

که چیري د ګټورتیا د نسبت ضریب د یو سره مساوي وو د ګټورتوب معنا لري یعني کرونده ګر د پنبې د تولید څخه ګټه ترلاسه کوي. که چیري یې ارزښت د یو څخه لوړ وو د زیات ګټورتوب مفهوم افاده کوي، معنا دا چې کرونده ګر زیاته ګټه ترلاسه کوي او که چیري دغه ضریب د یو څخه کم وو نو داسې مفهوم تري اخیستل کیږي چې کرونده ګر د پام وړ ګټه نه ترلاسه کوي.

**۳. د لګښت ګټې نسبت (Cost Benefit Ratio)**

د لګښت ګټې نسبت هم د ګټورتیا د نسبتونو څخه دی. دا نسبت موږ ته د تولید د لګښت په مقابل کې د خرڅلاو د عواید اندازه راښیي. د دې نسبت ارزښت د دې ښودنه کوي، چې کرونده ګر د هر واحد لګښت په مقابل کې څومره مجموعي عواید تر لاسه کوي هر څومره چې د دغه نسبت ارزښت زیاتیږي د زیات ګټورتوب ښودنه کوي. کولای سو نوموړی نسبت په لاندي ډول محاسبه کړو.

$$Benefit\ Cost\ Ratio = \frac{Total\ Revenue}{Total\ Production\ Cost}$$

**۴. د ګټي حد (Profit Margin) نسبت تحلیل**

د ګټي حد نسبت موږ ته د مجموعي عوایدو (خرځلاو) په مقابل کې د خالص عاید اندازه راښيي. د نوموړي نسبت ارزښت موږ ته دا راښيي چې د هري افغانۍ خرڅلاو عاید په مقابل کې څومره خالص عواید تر لاسه سوی دی. د ګټي حد نسبت په لاندې ډول سره محاسبه کیږي.

$$Profit\ Margin = \frac{Net\ Income}{Sales\ Revenue}$$

**نتیجه او مناقشه**

**د ځواب ورکوونکو پېژندنه:**

د څېړني لپاره معلومات د مارجې ولسوالی د (۷۰) تنه کروندګرو څخه راټول سوي دي. د معلوماتو د تحلیل څخه وروسته د څېړني پایلي ښودلې ده، چې د ځواب ور کوونکو له جملې څخه ۲۳ تنه (۳۱.۴۵٪) د ۲۰-۳۰ کلونو تر منځ عمر لري (۱ جدول).

**۱ جدول. د ځواب ورکوونکو پېژندنه**

| سلنه | فریکونسي | |
|---|---|---|
| **د عمر کچه** | | |
| 31.45 | 23 | د ۳۰-۲۰ کلونه |
| 30.0 | 21 | د ۴۰-۳۰ کلونه |
| 27.14 | 19 | د ۵۰-۴۰ کلونه |
| 11.42 | 8 | د ۵۰ کلونو څخه لوړ |
| د تعلیم کچه | | |
| 57.1 | 40 | بې تعلیمه |
| 25.7 | 18 | لومړنۍ زده کړې |
| 2.8 | 2 | دولسم پاس |
| 8.5 | 6 | څوارلسم پاس |
| 5.7 | 4 | لیسانس |
| د مارکېټ څخه فاصله | | |
| 14.2 | 10 | د ۱۰-۵ کیلومتره |
| 28.5 | 20 | د ۱۵-۱۰ کیلومتره |
| 11.4 | 8 | د ۲۰-۱۵ کیلومتره |
| 45.7 | 32 | د ۲۰ کیلومتره څخه زیات |
| **100.0** | **70** | **مجموعي** |

**د آبیارۍ پر وخت د پنبې تولید د في جریب ځمکي د لګښت او حاصلاتو تحلیل:**

د مارجې ولسوالی د پنبې د کروندګرو څخه د راټولو سوو معلوماتو د تحلیل څخه څرګند سوه چې په مارجه ولسوالی کې په اوسط ډول د في جریب ځمکي څخه ٦۷۵ کیلوګرامه د پنبې حاصلات ترلاسه کیږي. د هري کروندې څخه ۳۱۷۲۵ افغانۍ مجموعي عواید ترلاسه کیږي (۲ جدول). د (Ahmad et al., 2017 ) یوه څېړنه چې په مارجه ولسوالی کې د پنبې پر تولید ترسره کړې، داسې پایله یې لاسته راوړې وه چې په یوه فصل کې په اوسط ډول د پنبې د یوې کروندې څخه (۱۴۸۰.۳۳) کلیوګرامه حاصلات تر لاسه کیږي. د (yesim et al., 2022) له لوري په ترکیه کې لاسته راغلي پایلې ښيي چې په یوه فصل کې په اوسط ډول د هري کروندې څخه (۵۳۵۷.۲) کیلوګرامه حاصلات تر لاسه کیږي. دغه ډول (Tsakiris, 2014) په نوم څېړنه چې په تیلنګانا ایالت کې ترسره سوې وه داسې پایله یې لاسته راوړې وه چې د هري کروندې د تولید لګښت په اوسط ډول (۷۵٦۴۲.۵۳) روپۍ کیږي.

**۲ جدول. د ابیارۍ د وخت پنبې تولید (في جریب) (افغانۍ)**

| شماره | توضیحات | مبلغ | مبلغ |
|---|---|---|---|
| ۱ | پر في جریب ځمکه د پنبې د حاصلاتو مقدار (کلیوګرام) | 675 | |
| | د في کیلوګرام د خرځلاو قیمت | 47 | |
| | مجموعي عواید | **31725** | |
| ۲ | پر في جریب ځمکه د پنبې د تولید لګښتونه | | |
| | د ځمکې اماده کول | 500 | |
| | ابیاري | 300 | |
| | کیمیاوي کود (URE A 2000، DA P 4000) | 6000 | |
| | کیمیاوي درمل | 700 | |
| | حیواني کود | 1000 | |
| | تخم | 1200 | |
| | روز مزد | 200 | |
| | بزګري | 2500 | |
| | نور مصارف | 1500 | |
| ۳ | مجموعي لګښتونه | **13900** | |
| | د في جریب ځمکي خالص عواید | **17825** | |
| | د ګټورتیا نسبت ((Profitability Ratio | 1.282374101 | |
| | د لګښت ګټي نسبت ((Benefit cost Ratio | 2.282374101 | |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

**د آبیارۍ پر وخت د في جریب کروندې د ګټورتیا نسبت تحلیل:**

$$Profitality\ Ratio = \frac{Total\ Net\ Income}{Total\ production\ Cost}$$

$$= \frac{17825}{13900} = 1.282$$

د پورتني تحلیل څخه لاسته راغلې پایله ښيي چې د آبیارۍ پر وخت د پنبې د في جریب کروندې د ګټورتیا نسبت ۱.۲۸۲ دی. د دې معنا داده چې د هري افغانۍ پنبې لګښت په مقابل کې ۱.۲۸۲ افغانۍ د خالص عاید په ډول تر لاسه سوي دي. لیدل کیږي چې د آبیارۍ پر مهال د پنبې د في جریب کروندې د ګټورتیا نسبت د پام وړ زیات دی، نو داسې پایله اخیستل کیږي چې د ابیارۍ پر وخت د پنبې د في جریب کروندې څخه د پام وړ ګټه لاسته راځي. د ګټورتیا نسبت د زیاتوالي اساسي علت د في جریب کروندې د تولید د لګښت کموالی دی. طبعا د آبیارۍ پر وخت کرونده ګر د خپلو کروندو د خړوبولو لپاره د ویالو د اوبو څخه استفاده کوي، چې لګښت یې ډېر کم دی، خو برعکس د وچکالۍ پر مهال کرونده ګر د کروندو د خړوبولو لپاره د ویالو اوبو ته لاسرسی نه لري، نو اړ کیږي چې سولري سیستم نصب کړي چې په دې سره یې د تولید لګښتونه زیاتیږي او په ګټه کې یې د پام وړ کموالی راځي.

**د آبیارۍ پر وخت د في جریب کروندې د ګټې حد (Profit Margin) نسبت تحلیل:**

$$Profit\ Margin = \frac{Net\ Income}{Sales\ Revenue} = \frac{17825}{31725} = 0.561$$

د ګټې حد (profit margin) نسبت د تحلیل څخه وروسته داسې پایله لاسته راځي، چې د في جریب کروندې د خرڅلاو د عوایدو د هري افغانۍ په مقابل کې ۰.۵۶۱ افغانۍ د خالص عاید په ډول تر لاسه کیږي. لیدل کیږي د نورو نسبتونو سره جوخت دا نسبت هم زیات دی. د آبیارۍ پر مهال د پنبې د في جریب کروندې د خرڅلاو د عوایدو په مقابل کې د پام وړ خالص عواید تر لاسه کیږي.

**د و چکالۍ پر وخت د پنبې تولید د في جریب ځمکې د لګښتونو او حاصلاتو تحلیل:**

د مارجې ولسوالۍ د پنبې د کروند ګرو څخه د راټولو سوو معلوماتو د تحلیل څخه څرګند سوه، چې په مارجه ولسوالۍ کې په اوسط ډول د في جریب ځمکې څخه ۴۸۰ کیلوګرامه د پنبې حاصلات ترلاسه کیږي. د هري کروندې څخه ۲۵۹۲۰ افغانۍ مجموعي عواید ترلاسه کیږي (۳ جدول). د (aggarwal, et al,. 2012) له لوري په هند کې لاسته راغلې پایلې ښودلې ده، چې د ابیارۍ په حالت کې د في جریب کروندې حاصلات ۴۷۷ کیلوګرامه دی چې ددی څېړنی موندنی زموږ د څېړنی سره ورته والی لري.

**۳ جدول: پنبې تولید د وچکالۍ د وخت د في جریب ځمکې د تولید د لګښتونو او حاصلاتو تحلیل** (افغانۍ)

| شماره | توضیحات | مبلغ | مبلغ |
|---|---|---|---|
| ۱ | پر في جریب څمکه د پنبې د حاصلاتو مقدار (کیلوګرام) | 480 | |
| | د في کیلوګرام د خرڅلاو قیمت | 54 | |
| | مجموعي عواید | 25920 | |
| ۲ | پر في جریب څمکه د پنبې د تولید لګښتونه | | |
| | متغیر لګښتونه | | |
| | د ځمکې اماده کول | 500 | |
| | ابیاري | 700 | |
| | کیمیاوي کود: UREA 1200، DAP 2100 | 3300 | |
| | کیمیاوي درمل | 0 | |
| | حیواني کود | 500 | |
| | تخم | 1200 | |
| | بزګري | 2980 | |
| | زکات | 670 | |
| | روز مزد | 1270 | |
| | نور متغیر مصارف | 300 | |
| ۳ | مجموعه متغیر لګښتونه | 11420 | |
| | ثابت لګښتونه | | |
| | د سولر سیستم لګښت: | | |
| | د اوبو ماهی | 3400 | |
| | مزی (لین) | 700 | |
| | شمسي هنداري | 3600 | |
| | پیپ | 500 | |
| | مجموعي ثابت لګښتونه | 8200 | |
| ۴ | د تولید مجموعي لګښتونه | 19620 | |
| | د في جریب ځمکې خالص عواید | 6300 | |
| | د ګټورتیا نسبت ((Profitability Ratio | 0.854 | |
| | د لګښت ګټې نسبت ((Benefit cos Ratio | 1.854 | |

**د وچکالۍ د وخت د في جریب کرونديې د ګټورتیا نسبت تحلیل:**

$$Profitality\ Ratio = \frac{Total\ Net\ Income}{Total\ production\ Cost}$$

$$= \frac{11938}{13982} = 0.854$$

د پورتني تحلیل څخه لاسته راغلي پایله ښيي چي و چکالۍ پر وخت د في جریب کرونديې د ګټورتیا نسبت ۰،۸۵۴ دی. د دې معنا داده چي د هري افغانۍ پنبې لګښت په مقابل کي ۰،۸۵۴ افغانۍ د خالص عاید په ډول تر لاسه سوی دی. څرنګه چي د وچکالۍ پر وخت د في جریب کرونديې د ګټورتیا نسبت ډېر ټیټ دی، نو داسي ویلای سو چي د وچکالۍ پر مهال کرونده ګر د پنبې د کرونديې څخه د پام وړ خالص عاید نه ترلاسه کوي، د دې علت دادی چي د وچکالۍ پرمهال د پنبې د تولید لګښتونه لوړ دي.

**د وچکالۍ د وخت د في جریب کرونديې د لګښت ګټي نسبت تحلیل:**

$$Benefit\ Cost\ Rito = \frac{Total\ Revenue}{Total\ production\ Cost}$$

$$= \frac{25920}{13982} = 1.854$$

د Benefit cost Ratio د تحلیل څخه داسي پایله لاسته راځي چي د وچکالۍ پرمهال د في جریب کرونديې د هري افغانۍ لګښت په مقابل کي ۱،۸۵۴ افغانۍ د خرڅلاو د عاید په ډول تر لاسه سوي دي. څرنګه چي معلومیږي د لګښت ګټي نسبت د ګټورتیا د نسبت په پرتله زیات دی، علت یې دادی چي د لګښت ګټي نسبت د خرڅلاو د عوایدو (ناخالصو عوایدو) سره اړیکه لري او د هغه په اساس محاسبه کیږي او د ګټورتیا نسبت د خالصو عوایدو سره اړیکه لري، نو په دې اساس ویلای سو څرنګه چي د خرڅلاو عواید د خالصو عوایدو په نسبت زیات دي، نو د لګښت ګټي نسبت هم زیات دی. معلومه خبره ده چي د وچکالۍ پر مهال د في جریب ځمکي څخه د پام وړ د خرڅلاو عواید تر لاسه کیږي، خو څرنګه چي د تولید لګښتونه ډېر زیات وي، نو په دې اساس د في جریب کرونديې خالص عواید ډېر کم وي.

**د وچکالۍ پر وخت د في جریب کرونديې د ګټي حد ( Profit Margin) نسبت تحلیل:**

$$Profit\ Margin = \frac{Net\ Income}{Sales\ Revenue} = \frac{11938}{25920}$$

$$= 0.46$$

د ګټي حد (profit margin) نسبت د تحلیل څخه وروسته داسي پایله لاسته راځي چي د في جریب کرونديې د خرڅلاو د عوایدو د هري افغانۍ په مقابل کي ۰،۴۶ افغانۍ د خالص عاید په ډول تر لاسه کیږي. څرنګه چي دا نسبت ډېر کم دی، نو ویلای سو چي د وچکالۍ پر مهال د پنبې د في جریب کرونديې د خرڅلاو د عوایدو څخه د پام وړ خالص عواید لاسته نه راځي، چي د دې علت هم د پنبې د في جریب کرونديې د تولید زیات لګښتونه دي.

**د وچکالۍ او ابیارۍ پر وخت د پنبې د في جریب کرونديې د لګښتونو او حاصلاتو پرتله:**

د وچکالۍ پر مهال د پنبې د في جریب کرونديې ثابت لګښتونه ۸۲۰۰افغانۍ، خو د ابیاري پر مهال ثابت لګښتونه صفر وي، دا ځکه چي دغه لګښتونه د وچکالي پر مهال د ویالو اوبو ته د نه لاسرسي پر مهال د سولر سیستم د نصب له امله رامنځته کیږي، د وچکالۍ په حالت کي په اوسط ډول د في جریب کرونديې متغیر لګښتونه ۱۱۴۲۰ افغانۍ دي، خو د ابیارۍ پر مهال ۱۳۹۰۰ افغانۍ وي، چي د وچکالۍ د وخت په نسبت کم دي. همدرانګه د وچکالۍ پر مهال د في جریب کرونديې مجموعي لګښتونه ۱۹۶۲۰ افغانۍ او د ابیارۍ پر مهال د في جریب کرونديې مجموعي لګښتونه ۱۳۹۰۰ افغانۍ وي. د وچکالۍ پر مهال د پنبې د في جریب کرونديې څخه ۲۵۹۲۰ افغانۍ مجموعي عواید تر لاسه کیږي او د ابیارۍ پر مهال د في جریب ځمکي څخه ۳۱۷۲۵ افغانۍ مجموعي عواید تر لاسه کیږي. د وچکالۍ پر مهال د في جریب ځمکي څخه په اوسط ډول ۶۳۰۰ افغانۍ خالص عواید تر لاسه کیږي او د ابیاري پر مهال د في جریب ځمکي څخه ۱۷۸۲۵ افغانۍ خالص عواید تر لاسه کیږي، چي د پام وړ توپیر لري. (Raza, 2015) له لوري د پاکستان په سند او پنجاب کي لاسته راغلي پایلي ښودلې وه، چي د ابیارۍ په حالت کي د في هکتار کرونديې د تولید لګښتونه ۲۱۰۰۰۰ پاکستانۍ کالداري کیږي او د وچکالي په حالت کي بیا د پنبې د في هکتار کرونديې د تولید لګښتونه ۳۱۲۴۰۰ پاکستانۍ کالداري کیږي. همدارنګه د دغه څېړني پایلي ښودلې ده، چي د في هکتار کرونديې څخه لاسته راغلي مجموعي عواید د آبیارۍ په حالت کي ۴۷۵۸۷۵ پاکستانۍ کالداري وي، خو د وچکالۍ په حالت کي ۳۸۸۸۰۰ پاکستانۍ کالداري دي. په داسي حال کي چي څېړني ښودلې ده، چي د پنبې د في هکتار کرونديې خالص عواید د وچکالۍ پر مهال د ۹۴۵۰۰ پاکستانیو کالدارو سره مساوي دي او د آبیارۍ په حالت کي دغه خالص عواید د ۲۶۷۳۷۵ پاکستانۍ کالدارو سره مساوي دي، چي د یادو څېړنو پایلي په دواړو حالتونو (آبیارۍ او وچکالۍ) کي زموږ د څېړني د پایلو سره ورته والی لري.

**4جدول: د وچکالۍ او آبیارۍ پر وخت د پنبې د فی جریب کروندې د لګښتونو او حاصلاتو پرتله**

| | خالص عواید | مجموعي عواید | مجموعي لګښتونه | متغیر لګښتونه | ثابت لګښتونه |
|---|---|---|---|---|---|
| د وچکالۍ وخت | 6300 | 25920 | 19620 | 11420 | 8200 |
| د ابیارۍ وخت | 17825 | 31725 | 13900 | 13900 | 0 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**




**1 شکل: د وچکالۍ او آبیارۍ پر وخت د پنبې د فی جریب کروندې د لګښتونو او حاصلاتو پرتله**

## د وچکالۍ او آبیارۍ د وخت د فی جریب کروندې د ګټورتیا د نسبتونو پرتله

د ۵ جدول څخه څرګندیږي چې د وچکالۍ پر مهال د ګټورتیا نسبت ۰.۸۵۴ دی او آبیارۍ د وخت د ګټورتیا نسبت ۱.۲۸۲ دی. د دې څخه داسې نتیجه لاسته راځي چې د ابیارۍ پر وخت د وچکالۍ په نسبت د پنبې د فی جریب کروندې څخه زیات خالص عواید لاسته راځي. د وچکالۍ پر مهال د فی جریب لګښت ګټې نسبت ۱.۸۵۴ دی، خو د آبیارۍ پرمهال نوموړی نسبت ۲.۲۸۲ دی، چې دا د دې څرګندونه کوي، چې د آبیارۍ پر مهال د وچکالۍ په نسبت د پنبې د فی جریب ځمکې د تولید د لګښت په مقابل کې زیات د خرڅلاو عواید ترلاسه کیږي. دغه ډول د ګټې حد نسبت د وچکالۍ پر مهال ۰.۴۶ دی او د ابیارۍ پر مهال د ګټې حد نسبت ۰.۵۶۱ دی، چې دا څرګندوي چې د وچکالۍ په نسبت د ابیارۍ پر وخت د پنبې د فی جریب کروندې د خرڅلاو د عوایدو په مقابل کې د پام وړ خالص عواید تر لاسه کیږي. د (Kossivi, 2019) له لوري په شمالي تاګو کې لاسته راغلي پایلي ښیي چې د ابیارۍ پر مهال د هرې کروندې ګټورتیا نسبت ۱.۶۲ او د وچکالۍ پر مهال دغه نسبت ۰.۷۲ دی. داغه ډول دغه څېړنې ښودلې ده چې د ابیارۍ پر مهال د هرې کروندې د ګټې حد نسبت ۰.۶ او د وچکالۍ په حالت کې نوموړی نسبت ۰.۳ وي.

**5جدول. د وچکالۍ او ابیارۍ د وخت د فی جریب کروندې د ګټورتیا د نسبتونو پرتله:**

| | Profitability Ratio | Benefit Cost Ratio | Profit Margin |
|---|---|---|---|
| د وچکالۍ وخت | 0.854 | 1.854 | 0.46 |
| د ابیارۍ وخت | 1.282 | 2.282 | 0.561 |

**منبع: د ساحې څخه راټول سوي معلومات**

## د پنبې د فی جریب کروندې پر لګښتونو او حاصلاتو د وچکالۍ اغېزو تحلیل:

د پورتنیو ارقامو او نسبتونو د تحلیل څخه دا څرګنده سوه، چې وچکالۍ د پنبې پر لګښتونو او حاصلاتو د پام وړ منفي اغېزه لري. څرنګه چې معلومه سوه د ابیارۍ په حالت کې د پنبې د تولید لګښتونه لږ او د وچکالۍ پر مهال د پنبې د تولید لګښتونه زیات دي. وچکالۍ نه یواځې د پنبې د تولید پر لګښت تاثیر لري، بلکې د پنبې پر حاصلاتو او همدارنګه د کروندګرو پر مجموعي او خالص عاید یې هم منفي تاثیر وارد کړی دی. لکه چې څرګنده سوه د ابیارۍ پر مهال د فی جریب کروندې څخه ۳۱۷۲۵ افغانۍ مجموعي عواید تر لاسه کیږي. په داسې حال کې چې د وچکالۍ پر مهال د فی جریب کروندې څخه ۲۵۹۲۰ افغانۍ عواید تر لاسه کیږي چې د آبیارۍ د حالت په پرتله کم دي. دا ډول د ابیارۍ په حالت کې د فی جریب کروندې څخه ۱۷۸۲۵ افغانۍ خالص عاید تر لاسه کیږي، خو د وچکالۍ پر مهال د فی جریب کروندې څخه ۶۳۰۰ افغانۍ د خالص عاید په ډول تر لاسه سوی دی، چې د پام وړ توپیر پکښې موجود دی.

## پایله

د څېړني په پایله کي وموندل سوه، چي وچکالي  په مارجه ولسوالۍ کي د پنبې د تولید پر لګښت او حاصلاتو باندي  منفي تاثیر لري. د ځواب ورکونکو څخه د را ټولو سوو معلوماتو د اقتصادي او احصایوي تحلیل څخه وروسته معلومه سوه، چي  وچکالي د پنبې د تولید په لګښتونو کي د زیاتوالي او د پنبې په حاصلاتو او د کروندګرو په عواید کي د کموالي باعث ګرځي. د څېړني پایلي وښودل چي د وچکالۍ په حالت کي د في جریب کروندې مجموعي لګښتونه ۱۹۶۲۰ افغانۍ کیږي. په داسي حال کي چي د آبیارۍ په حالت کي د في جریب کروندې مجموعي لګښتونه ۱۳۹۰۰ افغانۍ دي. همدرانګه د څېړني پایلي وښودل چي د ابیارۍ په حالت کي د في جریب کروندې مجموعي عواید ۳۱۷۲۵ افغانۍ او د وچکالۍ پر مهال  ۲۵۹۲۰ افغانۍ وي. څېړني وښودل چي وچکالي د کروندګرو په خالص عاید باندي د پام وړ منفي تاثیر لري. لکه چي څرګنده سول  د ابیارۍ په حالت کي کرونده ګر په اوسط ډول د في جریب کروندې څخه ۱۷۸۲۵ افغانۍ خالص عاید تر لاسه کوي، خو د وچکالۍ په حالت کي کروندګر د في جریب کروندې څخه یواځي ۶۳۰۰ افغانۍ خالص عواید تر لاسه کوي.

## اخځلیکونه


1. Ali, A., Devan, K., Najib, M., Baryali, R., & Mahmmad khan, W. (n.d.). Intregrated farming systm for Helmand Provinc,Afghanistan. *Internatinal Journal of Advanced Education and Reserch, 2*(5), 62-67.
2. Alishah, O., & Ahmadikhan, A. (2009). The Efficts of Drought Stress on Improved Cotton Varieties in Golestan Provinc of Iran. *International Jornal of Plant Production, 1*(3), 1-3.
3. Bakhsh, A., Rehman, M., Salman, S., & Rahmat ullah. (2019). Evaluation of Cotton Genotyps For Seed Cotton Yield and Fibar Quality Undar Water Stress and Non - Stress Conditionas. *Sarhad Journal of Agricultur, 35*(1), 161.
4. Gwimbi, P., & Mundoga, T. (2010). Impact of Climate Change on Cotton Production Under Rainfed Conditions : Case of Gokwe. *Journal of Sustainable Development in Africa, 12*(8), 59-68.
5. Gwimbi, P., & Mundoga, T. (2010). Impact of Climate Change on Cotton Production Under Rainfed Conditions : Case of Gokwe. *Journal of Sustainable Development in Africa, 12*(8), 59-68.
6. Hebbar, K., Vengoplan, M., Prakash, A., & Aggarwal, P. (2012). Simulating the impacts of climate change on cotton production in Indai. *International Journal of plant production, 5*(2), 344-352.
7. Kossivi, M. (2019). Impact of Climate Change on Cotton Production, Northern Togo. *Scientific Research Publishing*, 927-947.
8. Muhammad Hussain, S., Ghulamsarwr , M., & Barkat, S. (2011). Screening Pakistani Cotton for Drought Tolerance. *Journal pakistan Botany Department, 6*(3), 383-388.
9. Raza, A. (2015). Analysing the Impact of Climate Change on Cotton Productivity in Punjab and Sindh, Pakistan. *Munich Personal RePEc Arichive*, 1-24.
10. Shideler, D. (2011). The Economic Impact of the 2011 Drought. *Oklahoma Cooperative Extension Service*, 1046-1046.7
11. Tsakiris , G., Loukas , A., Pangalou, D., Vangelis, H., & Tigkas, D. (2014). Droughat characteriziation. *Intarnational Journal of Research in Agronomy, 10*(3), 50-62.
12. Zafar, S., Afzal, H., Ijaz, A., Mahmood , A., Ayub, A., Nayab, A., & Moosa, A. (2023). Coton and drought stress: An updted overiew for improving stress toleranc. *Soth Africa Journal of Botany, 161(3)*, 258-268.

# An anlysis of the Impact of Drought on Cotton Production in Marja District of Helmand Province

Dr. Ali Ahmad[1*] and Arsalan Watandar[2]
[1]Assistant Professor, Agricultural Economics and Extension Department, Agriculture Faculty, Helmand University
[2]Lecturer and Dean, BBA Department, Economics Faculty, Bost University
Corresponding Author Email: aada.aliahmad@gmail.com

## Abstract

This research was conducted in the Marjah district of Helmand province under the title "The Effects of Drought on Cotton Production" during the years 2023-2024. The main objectives of the study were to determine the effects of drought on cotton, identify the challenges in cotton production, analyze the impact of drought on farmers' economic lives, and compare the irrigation conditions and drought status of cotton production. The Marjah district of Helmand province was purposely selected for the study, and seven villages were randomly chosen for the research. From these villages, 70 respondents were randomly selected. Preliminary data were collected from the respondents through interviews and questionnaires. In this study, a total of one jerib (approximately 0.2 hectares) of farmland was considered, and seven respondents were selected from each village. The results indicated that under irrigated conditions, the average cost of production per jerib was 13,900 Afghanis, while under drought conditions, the cost was 19,620 Afghanis per jerib. The total average income from irrigated land was 31,725 Afghanis per jerib, whereas during drought periods, the average income was 25,920 Afghanis per jerib. Additionally, the average net income from irrigated land was 17,825 Afghanis per jerib, while the average net income during drought conditions was 6,300 Afghanis per jerib. The research showed that water scarcity, lack of improved seeds, diseases, pests, absence of a regulated market, farmers' lack of awareness, and the poor quality and high cost of chemical fertilizers and pesticides are major challenges to cotton production in Marjah district.

**Keywords:** Cotton Production, Drought and Effects

# BOST

Academic & Research National Journal

Volume: 3

Issue: 2

Year: 2025